AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سرلوڅ مرادزی

۲۰۲۳ / ۰۲ / ۰۲

## هوډ

نه له چا څخه خپه، نه ګیله من یم
د فلک د څرخ په څېر پخپل مدار ځم
پخپل متې او پخپل هوډ زما تکیه ده
بینوا او خالي لاس که له دربار ځم
راته مه وایه په کومه لاره لاړ شم
زما خوښه چیرې ځم، په کومه لار ځم
تنوع ده، د ګلونو په ګلزار کې
ځکه هره ورځ دیدن ته د ګلزار ځم
د ملا د زور جنت مې پکار نه دی
جهنم ته په خوښۍ پخپل اختیار ځم
ما قیام د بندګۍ په وړاندې کړی
لاس تړلی چې زندان ته ګناهګار ځم
زه د خپلې لارې عشق کې تومتې یم
وا به نه وړم له دې لارې که په دار ځم
زه په ژوند کې د خپل ځان په غم کې نه یم
سربښندنې ته چې ځم د ستا په پار ځم
راته وایي چې د یار کوڅې ته مه ځه
څوک مې نه شي ستنولای په بار بار ځم
د خوښیو او مستیو به څه حال وي
میکدې خواته لا مخکې چې خمار ځم



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ